دافغانستان اسلامي امارت

د

عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث

هبة الله اخندزاده حفظه الله سره

# د ټولو وزارتونو او مستقلو ادارو د منابع بشری رئيسانو د مجلس خلص راپور


۱۴۴۴/جمادی الثانی/۱۷

۱۴۰۱/ جـــــدی / ۲۰

د مجلس ځاي کندهار

د راپور ليکونکی:

مولوي احمد شاه (شاکر) د ماليې ورازت د منابع بشري رئيس


بسم الله الرحمن الرحيم

- **مشرتابه مقام ته د منابع بشری رئیسانو دعوت:**

د مشرتابه مقام له دفتر څخه د ۱۴۴۴ هـ ق کال د جمادی الثانی د میاشتې په ۱۴ تاریخ خبرتیا نشر سوه چي په دې خبرتیا کې د لاندي وزارتونو او مستقلو ادارو د منابع بشري رئیسان د مشرتابه مقام دفتر ته دعوت سوي وه:

۱. وزارت دفاع
۲. وزارت داخله
۳. وزارت خارجه
۴. وزارت مالیه
۵. وزارت معارف
۶. وزارت تحصیلات عالي
۷. وزارت صحت عامه
۸. وزارت امر بالمعروف
۹. وزارت زراعت او مالداري
۱۰. وزارت ارشاد حج او اوقاف
۱۱. وزارت معدن او پطرولیم
۱۲. وزارت عدلیه
۱۳. کار او امور اجتماعي
۱۴. وزارت فوائد عامه
۱۵. سرحدات
۱۶. مهاجرینو چارو وزارت
۱۷. د اوبو او انرژۍ وزارت
۱۸. ترانسپورت او هوانوردۍ
۱۹. شهداء او معلولینو وزارت
۲۰. صنعت او تجارت وزارت
۲۱. ریاست عمومي استخبارات
۲۲. احصائیه ملي

---

په پورته لیست کې ۲۲ ذکر سوي هغه وزارتونه او ادارات دي چي په خبرتیا کې ئې نومونه لیکلي وه، مګر مجلس ته حاضر سوي ۳۲ کسان وه، یعني بعضي هغه وزارتونه او ادارات وه چي په عمومي خبرتیا کې ئې نومونه نه وه لیکلي مګر په شخصي دعوت مجلس ته را غوښتل سوي وه لکه د اداره امور منابع بشري رئیس، د ریاست الوزراء منابع بشري رئیس، د ضد الحوادث منابع بشري رئیس او داسي نور. . .

د جمادی الثانی په ۱۴ تاریخ چي د شنبې ورځ کیري خبرتیا نشر سوه او پکښې لیکلي وه چي سبا یعني ۱۵ تاریخ چي د یکشنبې ورځ کیري د مشرتابه مقام ته حاضر سئ.

دعوت سوو کسانو د یکشنبې ورځې ته ځانونه ورسول چي تقریباً د همدې ورځې تر پایه ټول کسان د مشرتابه مقام میلمستون ته حاضر سوه.

## د منابع بشري مسؤلینو خپل منځي مجلس:

د ۱۴۴۴ هـ ق کال د جمادی الثاني د میاشتې په ۱۶ تاریخ چې د دوشنبې ورځ وه د منابع بشري ټول هغه مسؤلین چې د مشرتابه مقام میلمستون ته راغلي وه، د میلمستون په مسجد کې سره راټول سوه او خپل منځي مجلس ئې وکې، تر مشورې وروسته د مجلس د کنټرول لپاره آمر د زراعت وزارت د منابع بشري رئیس محترم مولوي حمید الله ارشاد وټاکل سو او معاون ئې د ریاست الوزراء مقام د منابع بشري رئیس محترم مولوي محمد داؤد صاحب وټاکل سو، د مجلس لپاره محترم ملا حکمت الله د رسیدګی به حوادث وزارت د منابع بشري رئیس د محرر په توګه وټاکل سو.

په مجلس کې هر یوه په خپل نوبت سره د مجلس ګډونوالو ته خپل ځان معریفي کړ.

د تعارف څخه وروسته پر دې موضوع بحث وسو چې د عالیقدر شیخ صاحب حفظه الله سره د مجلس لپاره باید یو مشترک او واحد نظر وړاندي کو، د مجلس ګډونوالو هر یوه په خپل نوبت سره ټول هغه ستونزي او مشکلات بیان کړه چې دی ورسره لاس او ګریوان وو، د هر یوه نوم او نظرونه محرر صاحب ولیکل، چې دې مجلس تقریباً د ماپښین تر لمانځه پوري دوام وکړ.

د ماپښین څخه وروسته زه او د مجلس آمر صاحب، معاون صاحب او محرر صاحب سره کښینستلو او د ټولو ملګرو ټول لیکل سوي نظرونه مو سره توحید کړه، یوازي مو هغه موضوعات ولیکل چې د ټوله نظام په سطحه وه او په عالیقدر شیخ صاحب حفظه الله پوري اړه لرله، چې هغه موضوعات په لاندي ډول ولیکل سوه:

| ستونزه | حل لاره |
|---|---|
| د منابع بشري ټول مسؤلین د عزل او نصب په اړه د اصولو او مقرراتو د نشتون ستونزه لري. | لکه څه رنګه چې د مشرتابه عالي مقام د اصولو او مقرراتو د تعدیل په اړه وخت په وخت هدایت کړي دي، خو که دې موضوع ته خاصه توجوه وسي او قانون یا مقرره ئې تصویب سي او مسؤلین خپل کړني د هغه مطابق عیاري کړي. |
| د اداري کامندانو د ارتقاء ظرفیت په اړه ستونزه موجوده ده. | د مشرتابه عالي مقام که د یو متحد المال مکتوب په ذریعه ټول ادارات او وزارتونه مکلف کړي چې ټول نوي مقرر سوي کسان خپل کار زده کړي. |
| ټول نوي حکمي مقرر سوي مجاهدین د قدم او ارزیابی مسحق دي البته تر اوسه قدم ورکول سوی نه دی. | څرنګه چې د ملکي قوانینو په اساس حکمي مقرر سوي کسان د هغو امتیازاتو څخه نسي برخمن کیداي کوم امتیازات چې رقابتي کسان لري نو لهذا که ټول حکمي مقرر سوي مجاهدین د یو |

| | |
|---|---|
| | متحدالمال مکتوب په ذریعه او یا د قانوني ارزیابي او امتحان وروسته ټول جدید التقرر حکمي مقرر سوي مجاهدین رقابتي سي. |
| د جهاد په شل کلن دور کي بعضي ډلګۍ مشران او یا نور لوړ مسؤلین چي اوس په ټیټو بستو کي مقرر دي او یا بې سرنویشته دي. | دداسي لوړو مسؤلینو لپاره که د رجال برجسته ځخه خصوصي محافظین او امتیاز ورکول سي. |
| طبقه اناث چي پر کور معاشات اخلي او رسمي بستونه ئې اشغال کړی دي. | ددې مشکل د حل لپاره که داسي وسي ښه به وي:<br>۱. یا دي ئې بستونه تنقیص سي.<br>۲. یا دي ئې د خپل کورنۍ یو کس ددې پر ځای مقرر سي.<br>۳. او یا دي هغه اداراتو ته تبدیل سي چي پکښي طبقه اناث ته د کار کولو اجازه ورکول سوې ده. |
| د ټولو وزارتونو او اداراتو د منابع بشري مسؤلینو تر منځ د همغږۍ او همکارۍ ضرورت. | د ټولو وزارتونو او اداراتو د منابع بشري مسؤلینو تر منځ وخت په وخت او یا مهانه یو مجلس باید دائر سي چي قانوني بڼه ولري. |

په پورته لیکل سوي جدول کي د ټوله نظام په سطحه د منابع بشري اړوند هغه ستونزي او حل لاري لیکل سوي چي د مجلس د ټولو ګډونوالو ټول نظرونه توحید سول او د عالیقدر شیخ صاحب حفظه الله سره تر مجلس کولو وروسته په کتبي ډول شریک سول.

- **د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله سره مجلس:**

د ۱۴۴۴ هـ ق کال د جمادی الثاني د میاشتي په ۱۷ تاریخ چي د سه شنبې ورځ وه د منابع بشري ټول هغه مسؤلین چي د مشرتابه مقام میلمستون ته راغلي وه، د میلمستون په مسجد کې سره راټول سوه او د میلمستون مسؤل مولوي صاحب نیاز محمد راغلي حاضري ئې واخیستل او د عالیقدر شیخ صاحب سره د مجلس کولو په اړه ئې مهمي سپارښتني وکړې.

د لږ وخت انتظار وروسته ئې بړغ وکی چي عالیقدر شیخ صاحب حفظه الله تشریف راوړی دی او د څنګ په اطاق کې د نظامي محکمې د مسؤلینو سره ناست دي، تاسو هم مجلس ته راسئ.

موږ چي کله ورغلو، عالیقدر شیخ صاحب او ورسره څو نور مولوي صاحبان ولاړ وه او زموږ د ټولو سره ئې روغبړ وکی، وروسته ټوله کښېنستلو او موږ هر یوه په خپل نوبت سره خپل ځان معریفي کړ، وروسته د مجلس د شروع لپاره زموږ له ګډونوالو څخه یوه تن قاري صاحب څو آیاتونه تلاوت کړه او مجلس شروع سو.

وروسته شیخ صاحب حفظه الله سورة النصر تلاوت کړ، بیا ئې ټولو ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ووایه او ټولو ته ئې په دنیا او آخرت کې د کامیابۍ او د خیر دوعاء وکړه، بیا ئې وویل: زما دا تمنی ده او دا مې خوښه ده چي موږ او تاسو هره ورځ داسي یو مجلس ولرو او د دې اسلامي نظام لپاره د خیر مشورې وکړو خو البته دومره امکانات نه وي.

- **په مجلس کې د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله هدایات:**

1. زموږ او ستاسو کارونه شخصي نه دي، یعني په خپلو مسؤلیتو کې باید د نظام او اسلامي امت مصالحو ته متوجه سو نه خپلو شخصي ګټو ته، ځکه؛
2. څوک چي په یو مسؤلیت کې مقرر سي هغه زما د واکه ووتی، هر هغه څوک چي مقرر سي او اسلامي نظام او رعیت ته ئې نفعه رسېږي باید عزل نسي که څه هم زما او ستا پر طبیعت برابر نه وي؛ او هر هغه څوک چي مقرر سي او اسلامي نظام او رعیت ته ئې تاوان رسېږي هغه باید عزل سي که څه هم زما او ستا پر طبیعت برابر وي، یعني خپل مزاج او طبیعت به معیار نه بولو؛ او نه به خپل شخصي ګټه او تاوان معیار بولو؛ بلکه د اسلامي نظام او رعیت مصالح به معیار ګرځوو.
3. د خپلوۍ او قرابت له مخې نا اهله کس مقرر کول خیانت دی؛ لکه څنګه چي امام احمد په خپل مسند کې له یزید بن سفیان(رح) څخه روایت کوي، هغه وايي: ابوبکر چي زه کله شام ته لېږلم، راته وېې ویل: يَا يَزِيدُ، إِنَّ لَكَ قَرَابَةً عَسَيْتَ أَنْ تُؤْثِرَهُمْ بِالْإِمَارَةِ، وَذَلِكَ أَكْبَرُ مَا أَخَافُ عَلَيْكَ، فَإِنّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: (مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ الْمُسْلِمِينَ شَيْئًا، فَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أَحَدًا مُحَابَاةً، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ، لَا يَقْبَلُ اللَّهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا، حَتَّى يُدْخِلَهُ جَهَنَّمَ...) **ژباړه**: اې یزیده! ته چي شام ته د والي په حیث ځې نو ته هلته خپلوان او قریبان لرې، کېدای سي هغوی ته په دندو ورکولو کې لومړیتوب ورکړې او دا تر ټولو هغه لوی څه دي چي زه یې ستا په اړه وېره لرم، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: چاته چې د مسلمانانو کوم مسؤلیت وسپارل سو او بیا ئې د مینې(خپلوۍ او اندېوالۍ) له مخې څوک پرې وګومارل،

پر هغه به د الله لعنت وي، الله به يې نه فرض او نه نفل قبول کړي تردې چې دوزخ ته به يې د ننه کړي.

4. بیله شرعي دلیل څخه به نه خپله استعفآء کوو او نه به نور مسؤلیین معزول کوو؛ ځکه تر څو چې یو شرعي دلیل موجود نه وي خپله استعفآء کول هم ناروا ده او د بل کس معزول کول هم ناروا دي، خو که چیري کوم شرعي دلیل موجود سي بیا نو وضعي قوانینو ته باید ونه کتل سي، په شریعت باید عمل وسي؛ ځکه چې.
5. د مسؤل خطاء متعدي ده او ټول رعیت او اسلامي نظام ته ئې تاوان رسیږي، لکه څه رنګه چې د حاشیة ابن عابدین په مقدمه کې راغلي دي: رأى الإمام أبو حنيفة غلامًا يلعب بالطين ، فقال له : يا غلام ، إياك والسقوط في الطين , فقال الغلام للإمام : إياك أنت من السقوط ، لأن سقوط العالِم سقوط العالَم (67/1). **ژباړه**: امام أبو حنیفه (رح) یو کوچنی هلک ولیدۍ چې په خټو کې بازی کولې، نو امام أبو حنیفه (رح) ورته وویل اې هلکه په دې خټو کې بازۍ مه کوه چې غوځار(ښووی) نه سې، هلک ورته وویل: ته خپل ځان د غوځاریدلو(ښوویدلو) څخه وساته ځکه د عالِم ښوویدل د عالَم ښوویدل دي.
6. که امام په عفوه کې خطاء سي دا خیر دي تر هغه چې امام په عقوبة کې خطاء سي، لکه چې امام ترمذي (رح) د حضرت عائشې (رض) څخه روایت کړي دي: ...فإنَّ الإمامَ إن يُخطِئ في العفوِ خيرٌ من أن يُخطِئَ في العُقوبةِ، رواه الترمذي؛ **ژباړه:** که امام خطاء سو په عفوه کې یعني که یو کس په حقیقت کې مجرم وو او امام خطاء سو عفوه ئې ورته وکړه نو دا خیر دي تر دې چې امام په عقوبة (حد جاري کولو) کې خطاء سي ځکه که وروسته معلومه سي چې دا کس چې حد پر جاري سو په حقیقت کې مجرم نه وو بلکه امام خطاء سوی وو، نو دا بیا نه را ګرځي.
7. د هیڅ چا منفي خبري باید پر تاسو تأثیر ونه کړي، زموږ اسلام ډیر دښمنان لري خو تاسو باید د هیڅ دښمن د خبرو څخه متأثره نسئ، بلکه د الله تعالی سره خپل رابطه قوي کړي او د مسلمانانو سره ملګرتیا وکړي؛ لکه څه رنګه چې الله تعالی فرمايي: يا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُکَ اللَّهُ وَ مَنِ اتَّبَعَکَ مِنَ الْمُؤْمِنينَ[الأنفال 64]. **ژباړه:** اې پیغمبره صلی الله علیه وسلم ستا او ستا مؤمِنو پیروانو لپاره خو یوازي الله تعالی کافي دی، او همدارنګه اې پیغمبره صلی الله علیه وسلم ستا لپاره خو الله تعالی او مؤمِن پیروان کافي دي.
8. په هر کار کې باید شرعي دلیل وي، که د یوې مسئلې په اړه نه پوهیدلاست نو د اهل علم او اهل الرأی څخه پوښتنه کوي؛ لکه چې الله تعالی فرمايي: فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ[النحل ۴۳]. **ژباړه:** پوښتنه وکې د اهل علم څخه که نه پوهیدلاست. یعني د هر څه د شرعي حکم په اړه ځان پوه کړي که تاسو خپله علم نه لری بیا د یو عالم څخه پوښتنه وکړي، تر داسي اندازې چې د هرې خبري او هر کار د شرعي حکم په اړه هم باید ځان خبر کړي، مثلاً: د اسلامي امارت یو مسؤل چې غوښتل ئې په یو سیاسي سفر ولاړ سي نو سپارښتنه ورته وکړه چې په دې سفر کې یو تکړه عالم در سره ملګری کړه تر څو ستا هر مجلس او هره خبره باید دده تر نظر تیره سي او دده په مشوره وسي؛ ځکه چې.

9. اسلامي شريعت يو كامل نظام دي؛ اقتصاد، سياست او نور ټول علوم او فنون شريعت ته محتاج دي او شريعت هيڅ شي ته محتاج نه دي، ځكه موږ يو وسيع او پوره دين لرو، موږ ډير مستغني يو، لکه چې الله تعالی فرمايي: الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي...[المائده ۳]. **ژباړه:** نن ما ستاسو لپاره دين او شريعت كامل كړ او تاسو ته مې خپل نعمت در پوره كړ. لكه څه رنګه چې الله تعالی موږ او تاسو ته كامل او جامع دين راكړی دی نو راسئ چې د اسلامي نظام لپاره اداري قوانين هم داسي كامل او جامع جوړ كړو چې د نړۍ ټول نظامونه ورته محتاج وي نه داسي چې موږ د نورو قوانينو ته محتاج سو، په همدې خاطر زه هميشه خپلو وزيرانو ته وايم چې تاسو د هر كار په اړه د علمآؤ سره مشوره كوئ ځكه شريعت كامل دی او د هر څه په اړه ئې سمه لاره واضح كړې ده.

10. د اطاعت په اړه زما سياست دادی چې په مباحاتو كې يسر او اساني كوم يعني كه د يو كار په اړه شريعت د دوو لارو اجازه وركړې وه نو زه هغه لاره انتخابوم چې اسانه وي؛ او په واجباتو كې يسر او اساني نسم كولای ځكه هلته زه صلاحيت نلرم بلكه په شريعي نصوصو كې ټول بيان سوي روا او ناروا، حلال او حرام، زه كه په دوو جائزو لارو كې د يوې انتخاب وكم په هغه عمل كول بيا واجب كيږي مګر زه نسم كولای چې جائز ناجائز كم او يا ناجائز جائز كم.

11. هر كس دي په خپل ساحه كې شريعت تطبيق كړي، موږ او تاسو چې دا ۴۳ كاله او يا دا شل كاله جهاد وكی، شهيدان مو وركړه، هجرتونه مو وكړه، لوږي او تندي مو تيري كړې، يخونه او ګرمۍ مو تيري كړې، زندانونه او شكنجې مو تيري كړې او يا نور قسم قسم تكليفونه مو برداش كړه، ددې ټولو څخه مو هدف دا وو چې بايد شريعت حاكم سي، نن چې الله تعالی موقع در كړه شريعت حاكم كړه او كه شريعت نه حاكم كوې نو بيا دي دا ټوله مبارزه جهاد نه بلكه جنګ بلل كيږي، ځكه جهاد د شريعت حاكميت لپاره كيږي نه فقط چوكۍ ته درسيدو لپاره، نن چې ته چوكۍ ته ورسيدې او شريعت نه حاكم كوي نو معلومه سوه چې ته د چوكۍ لپاره جنګيدلې نه اسلامي نظام لپاره، او كه شريعت نه حاكم كوي نو دا هم معلومه سوه چې ستا د پخوا څخه نيت د چوكۍ وو خو پټ كړی دي وو، تر يو كاذب شعار لاندي دي خپل فاسد هدف(چوكۍ) ته ځان رسوي، په تاريخ كې داسي پيښې تكراري سوي دي مثلا:

أ. امام بخاري د ابوهريرة (رض) څخه روايت كوي چې د خيبر په غزا كې يو كس د كفارو په مقابل كې ډير ښه وجنګيدی خو جهنمي وو، ځكه د ډيرو شديدو ذخمو له وجهې ئې ځان وواژه او رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په اړه وفرمايل چې دی جهنم ته ولاړی.

ب. د روسانو په مقابل كې ډير مقدس جهاد وسو او ډيري مقدسي وينې توی سوې خو كله چې د جهاد د نتيجې وخت را ورسيدی چې د شريعت حاكميت دي نو معلومه سوه چې د ډيرو هدف فقط چوكۍ وه ځكه چوكۍ ته ورسيده او شريعت ئې حاكم نه كړ، نو هغه وو چې بيا ددوی په مقابل مخلصو مجاهدينو قيام وكړ او خپل هغه اصلي هدف (د شريعت حاكميت) ته ئې ځان ورسوی.

ج. په نفحة العرب كې راځي: په بغداد كې يو سړی وو چې ډير عبادت ئې هم كوي، نوم ئې رويم وو، كله چې پر ده قضاء عرض سوه ده قبوله كړه، يوه ورځ جنيد ورسره

ملاقات وکی بیا به ئې ویل هر څوک چې غواړي خپل سر داسي یو چا ته وواېي چې هغه ئې رسوا نه کړي نو خپل سِر دي رويم ته وواېي ځکه دی هغه کس دي چې د دنیا محبت ئې څلویښت کاله په زړه کې پټ ساتلی وو تر څو چې کله ئې قدرت ورباندي پیدا کړ.

د. او همدا رنګه الله تعالی فرمايي: يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ[الطارق۹]. **ژباړه:** هغه ورځ راتلونکې ده چې د هر چا اسرار به ښکاره سي، يعني که د چا فاسد نيت وي او يا يې غلطه عقيده وي دا ټول به ښکاره سي.

ه. د اشرفغني هغه اعلانونه مې ښه پياد دي چې د ډيموکراسۍ او جمهوريت چوکۍ ته د رسيدلو لپاره به ئې په انتخاباتو کې په کاذبانه ډول دا شعار ورکوي چې زه به عمري عدالت راولم، يعني تر يو کاذب شعار لاندي به ئې خپل شوم هدف ته ځان سول غوښتل.

12. د شهيدانو ويني تر خپل قدرت مه قربانوی، ددې اسلامي نظام لپاره ډېر مسلمانان شهيدان سوه، ډېر مسلمانان معيوب سوه او ډېر کوچني مؤمنان يتيمان سوه، د الله تعالی په خاطر دا ټولي قرباني تر خپل قدرت مه قربانوی، که تاسو شريعت حاکم نه کړی نو په ورځ د قيامت کې به دا شهيدان درته وايي چې موږ خو دا خپل ځانونه ټوټه ټوټه کړه او خپل اولادونه مو يتيمان کړه آيا دا ددې لپاره وه چې ته قدرت او چوکۍ ته ورسيږې؟

که موږ شريعت حاکم نه کړو بيا به ډېر زيات شرمنده سو، څو ورځې مخکې هلمند ته په سفر تللی وم چې هلته مې د مجاهدينو سره ليدل خو هلته مې يو داسي مجاهد هم وليدی چې تر اوسه ئې لا زخمونه نه وه جوړ سوي معيوب سوی وو، تر فتحې فقط لس ورځې مخکې زخمي سوی وو، بيا ئې زما څخه د يوه موټر غوښتنه وکړه، ما هم ورته وويل چې تا ددې نظام لپاره خپل د بدن اعضاء ورکړي دي آيا موږ تاته موټر نسو درکولای؟ بلکه دستي مې يو موټر ورته منظور کړ.

همدارنګه مې حکم وکړ چې ټول هغه معلولين چې دوه اندامونه ئې د لاسه ورکړي دي ټولو ته بايد يو يو موټر او يا د يوه موټر پيسې ورکول سي.

13. د هيڅ چا د ملامتيا څخه مه بيريږئ شريعت حاکم کړي، دا يوه موقع ده چې الله تعالی په لاس درکړې ده چې بايد شريعت حاکم سي، ځکه تر دغه نو بله ښه موقع کله سته چې الحمدلله اوس اسلام د نظام په شکل کې حاکم چې د افغانستان په تاريخ کې په دا ډېر وخت داسي نه وه سوي بلکه هميشه کوشش سوی وو چې اسلام د نظام په شکل او بدنه کې حاکم نسي تر داسي اندازې چې مخلص مسلمانان صحراؤ ته سوي وه او په ښارونو کې د اسلام لپاره پوره ازادي نه وه حتی اسلامي دعوت هم چا په ازاد ډول نه سوای کولای، اوس خو نظام اسلامي سو، دعوت او تبليغ مو بلکل ازاد سو، دا د الله تعالی يو ډېر لوی فضل او احسان دی پر موږ او تاسو باندي نو دا موقع يو لوی غنيمت وبولۍ او استفاده ورڅخه وکړئ.

14. د الله تعالی پر ټوله مځکه د شريعت د حاکميت فکر ولرئ، لکه څه رنګه چې تاسو په صحراؤ کې واست هلته مو امامتونه او جهادونه کول ستاسو سره علم درسره وو دا ډېره لويه

هستي ده، نو تاسو د خپل علم او وعظ و نصیت په سبب هغه د صحراؤ خلگ د دین سره دومره اشنا کړه چي پر دې دین عاشقان سوه، ددې دین لپاره هر قسم قربانۍ ته اماده سوه ستاسو حمایه ئې وکړه، بالآخیره ددوی کلکي حمایې او قربانیو تاسو دومره قوي کړلاست چي ټول کفر مو مات کړ او اسلامي نظام مو حاکم کړ، اوس خو دادي ښارو ته راغلاست اوس نو دغه د ښارو خلگ هم د الله تعالی دین ته راوبولی او د دین سره ئې دومره اشنا کړئ چي په ټوله افغانستان کي یو مخالف کس پاته نسي بلکه ټول داسي مخلص مسلمانان سي چي ستاسو دومره قوي حمایه وکړي چي تاسو پر ټوله نړۍ اسلامي نظام حاکم کړی، کله چي د افغانستان ټول خلگ د دین لپاره قربانۍ ته اماده سوه بیا نو چي هري خواته د تللو امر مي درته وکی بیا به نو ځی، که رشتیا هم د دین او شریعت حاکمیت غواړی نو قربانۍ ته اماده سئ، زغري واغوندي حتی رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د فتحي په ورځ دوې زغري اغوستي وې.

15 . هر آمیر چي وفات سي ټول فرعي شیان لکه فرمانونه او داسي نور ټول د نوي آمیر تجدید غواړي، د نظام لپاره فرعي قوانین او مقررې ضروري دي، البته د جمهوریت ټول قوانین او مقررې خو لغوه دي ځکه هغه اسلام او شریعت لغوه کړي دي، حتی یو علی حده فرمان ته هم ضرورت نسته چي دا د جمهوریت قوانین او مقررې لغوه کړي ځکه هغه شریعت مخکي لغوه کړي دي، کله چي د مرحوم امیر المؤمنین د وفات خبر را ورسیدي او د امارت مسؤلیت شهید منصور صاحب ته وسپارل سو، نو موږ ټول هغه مخکني فرمانونه ورته راوړه او شهید منصور صاحب ټوله تجدید کړه، بیا چي کله ماته دا مسؤلیت را وسپارل سو بیا هغه فرمانونه چي موجود وه هغه مي تجدید کړه، نو اوس هم تاسو دا خپل اداري قوانین ښه قوي د شریعت مطابق جوړ کی او ماته ئې راوړئ چي زه یې در منظور کم.

16 . په اسلامي نظام کي دا قانون دي چي هغه مسؤل ډیر د امتیاز او تقدیر وړ دي چا چي ډیر شریعت حاکم کړي وي، یعني تقدیر نامه به د تقوی پر بنیاد ورکول کیږي نه پر بل بنیاد.

17 .دا یوه موقع ده ښه تاریخ وګټئ، ښه تاریخ ګټل یو څه قربانۍ غواړي مثلاً:

أ. د خلګو خبري تا باید د حق پرېښودلو ته مجبور نه کړي، کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو مکه مکرمه فتحه کړه د هغو سره همدغه قران وو بل شی نه وو، د فتحي وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې بیان ماتول په داسي حال کي چي د مکې مشریکینو پر دا بتانو ایمانونه راوړي وه او د خدایي عقیده یې ورته درلودل، خلګو ډیري رقم رقم خبري کولې خو د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم د خلګو خبرو ته نه کتل بلکه الله تعالی دین حاکم کړ، نو تاسو هم د الله تعالی دین حاکم کی د خلګو خبرو ته غوږ مه نیسئ.

ب. د قربانۍ عزم ولرئ، صحابه کرامو چي تاریخ ګټلی دي او د دنیا تر شرق او غرب پوري یې اسلام رسولی دي، دوی همیشه قربانۍ ته اماده وه او قربانۍ یې ورکولې، تاسو یې د قربانۍ نتیجه وینئ چي زموږ او ستاسو دې ملک ته هم دوی اسلام را رسولی دی تاسو دا مسلمانان وګورئ او د صحابه کرامو قبرونه او زیارتونه وګورئ

مثلاً شهداء الصالحين په کابل کې، نو که تاسو هم تاریخ ګټل غواړي قرباني ته اماده سی ځکه تاریخ ګټل داسي اسانه کار هم نه دي.

18. ستاسو تګ يو عظيم ضرر دي، تاسو په هر لحاظ ددې نظام ساتنه وکی، ځکه يوازي همدا نظام دي چې بلکل اسلامي دي ځکه نو ټوله نړي ورسره دښمني کوي، تاسو په ډيري خبري اوری چې دا پلانی کار ولي داسي وسو په دې خو نظام له منځه ځي، خو پام کوي چې خطاء نسئ دا خبره پياد ولرئ او په دې خپل عقيده جوړه کړي چې دا نظامونه راوستل او له منځه وړل دا د الله تعالی کار دی، کله چې د الله تعالی خوښه سي يو نظام راولي مثلاً امارت اسلامي او کله چې بيا خوښه سي يو نظام نړوي، تاسو که د نظام ساتنه غواړئ شريعت مکمل تطبيق کړي.

19. د نظام ټوله بدنه د مخلصو مجاهدينو څخه جوړه کړئ، تاسو کوشش وکی چې په نظام کي ډير مجاهدين راولی، ځکه که د نظام ټوله بدنه د مجاهدينو څخه جوړه سي نظام قوي کيږي او شريعت تطبيق کيږي، که تاسو په دې خاطر يو مجاهد نه مقرر کوی چې دا مسلکي نه دي، نو زه په دې باور لرم چې مجاهد او طالب تر هر چا زيرک، هوښيار او مخلص دی، ته موقع ورکړه او دی مقرر کړه چې دی به تر هر چا ژر دا خپل کار زده کوي.

20. غير اهل کسان بايد مقرر نسي، غير اهل کسان هغه دي چې نظام او رعيت ته تاوان رسوي.

**نوټ**: دا ټوله د مجلس هغه برخه وه چې د ماپښين تر لمانځه پوري يې دوام وکړ او په دې مجلس کې موږ ټوله سامعين وو او عاليقدر شيخ صاحب حفظه الله بيان کوي، د مجلس په اخير کې موږ غوښتنه وکړه چې د عاليقدر شيخ صاحب حفظه الله سره خپل بيعت نوی کړو او لاس په لاس بيعت ورسره وکړو، زموږ د غوښتني سره سم عاليقدر شيخ صاحب حفظه الله هم زموږ غوښتنه ومنل او د هر يوه سره يې په خپل نوتب سره لاس په لاس بيعت تجديد کړ، وروسته عاليقدر شيخ صاحب حفظه الله دوعاء وکړه او د ماپښين لمانځه ته ولاړ سوو.

- د ماپښين د لمانځه څخه وروسته مجلس:

په همدې ورځ د ماپښين د لمانځه څخه وروسته په مسجد کې بيا مجلس شروع سو، چې په دې مجلس عاليقدر شيخ صاحب حفظه الله ډير زموږ څخه پوښتني کولې چې:

ايا ستاسو د عزل او نصب اصول کوم دي؟

ولي تاسو د عزل او نصب قانون د تصويب لپاره موږ ته نه راليږی؟

ولي تاسو يو مجاهد چې مقرر کی په ډيرو ادارو يې ګرځوی او ستړی کوی يې؟

کله چې تاسو يو مجاهد مقرر کی ولي هغه ته داسي فورمې ورکوی چې په هغه کې دده څخه د ليري قربيانو او بعضي ښځينه وو نومان هم غوښتل سوي وي؟

او د مقررۍ په اړه بعضي نوري داسي پوښتني.

چي زموږ له طرفه د هري پوښتني پوره او واضح جواب ورکول کيدی، کله چي عاليقدر شيخ صاحب حفظه الله د اوسني تقرر په اړه پوره معلومات ترلاسه کړه، نو سپارښتنه ئې وکړه:

د مجاهد لپاره د تقرر پروسه اسانه کړی!

مطلق غير شرعي کارونه مه کوی!

د يو چا د سوانحو او معلوماتو د ثبت لپاره هغه معلومات کافي دي چي په تذکره کي ليکل سوي وي!

کوشش وکي د عزل او نصب قانون موږ ته د تصويب لپاره را واستوئ!

د مجلس په مابينځ کي مو د ماځيگر لمونځ اداء کړ او وروسته مو بيا د ماښام تر لمانځه پوري مجلس وکی، د ماښام د لمانځه څخه وروسته مو عاليقدر شيخ صاحب حفظه الله سره خدای په اماني وکړه او رخصت مو ورڅخه واخيستی.

**يادونه**: دا چي دا ليکنه ما ټوله د هغه ياداښتونو وکړه چي ما د مجلس په جريان کي ياداښت کړي وه که څه هم ما حتی الوسع ډير کوشش وکړ چي خاص هغه د عاليقدر شيخ صاحب حفظه الله الفاظ وليکم خو انسان عاجز دي، زه هم په خپله عاجزي اقرار کوم او ممکن بعضي الفاظ راڅخه تغير او تبديل سوي وي، په دې اړه له ټولو څخه بخښنه غواړم.

وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ

اللهم أرنا الحق حقا وارزقنا اتباعه وأرنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه

وصلی الله تعالی علی النبی الأمی وعلی آله واصحابه اجمعين

کتبه: احمدشاه (شاکر)

۱۴۴۴/جمادی الثانی/۲۴

۱۴۰۱/ جــــدی / ۲۷

وقت: ۱۱:۳۶ ب ظ

وزارت ماليه رياست منابع بشري